# د کربلا نه مونږه څه زده کړل؟

04-August-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

## 4 اګست 2022ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د کربلا نه مونږه څه زده کړل؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: كله چې د زيارت ورځ راشي، الله پاک فرښتې راليږي، د هغوئي سره د سپينو زرو كاغذ او سرو زرو قلمونه وي، هغوئي ليكي چې څوک د زيارت په ورځ او د جُمعے (يعني د زيارت او جُمعے په مينځنئ شپه) په ما باندې زيات درود لولي.[1]

مصطفٰے جانِ رحمت پہ لاکھوں سلام
شمعِ بزمِ ہدایت پہ لاکھوں سلام
ہم غریبوں کے آقا پہ بے حد درود
ہم فقیروں کی ثَروَت پہ لاکھوں سلام[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



[1]...تاریخ دمشق، جلد:43، صفحه:142۔

[2]...حدائقِ بخشش، صفحه:298295ملتقطاً۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته داخلوي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې څومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به باآدبه كښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم ﺑﺨﭙﻠﻪ به پرې د عمل كولو او نورو د د رَسَولو كوشش كووم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## غير مسلمه مسلمان شو...!!

علامه اِبنِ حجر مكي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ذِكر كوي: د كربلا د واقعې نه پس بد بخته يزيديانو د امامِ عالي مقام، حضرت امامِ حُسين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سر مبارك په نيزه كښې اوچت كړو او مُلكِ شام طرف ته ئې وړلو، په لاره كښې د يو



[1]...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

نصراني راهب (يعني عيسائي عبادت کوونکي) ګرجا راغله، هغه راهب چې سرِ انور اوليدو نو د هغې په باره کښې ئې د خلقو نه پوښتنه اوکړه، خلقو ورته اووئيل چې دا د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمسي، حضرت امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر مبارک دے، دې اوريدو سره راهِب ډير خفه شو او د پليدو يزيديانو خوا له لاړو او اوئې وئيل: تاسو غلط خلق ئې! آيا تاسو په دې خبره راضي کيدے شئ چې لس زره اشرفئ واخلئ او د يوے شپے د پاره دا سر مبارک ما له راکړئ؟ يزيديان خو د مال اوږي وو، فوراً راضي شو. راهِب اګرچه غير مسلمه وو، البته هغه د سرِ مبارک ئې پوره ادب اوکړو، هغه له ئې غسل ورکړو، خوشبو ئې پرې اولګوله او ټوله شپه ئې په غيږه کښې کينښودو او ورته ئې کتل، هغه د سرِ انور نه يو نُور آسمان طرف ته اوچتيدونکے اوليدلو، د سر مبارک د دې کرامت ليدلو سره د راهِب زړه نرم شو، د سرِ انور نه ووتونکي نُور د راهِب سينه روښانه کړه، هغه دا شپه په ژړا تيره کړه او سحر ئې کلمه اووئيله مسلمان شو، هغه نيک بخته راهِب چا چې اوس کلمه اووئيله او د حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نيکه مبارک، رحمتِ کونين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلام جوړ شو، هغه خپله ګِرجا او ټول سامان پريښودو او باقي ټول ژوند ئې د اهلِ بيتو په خِدمت کښې تير کړو.[1]



[1]...الصواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، فی فضائل اہل البیت، صفحه:246۔

www.dawateislami.net

دولتِ دیدار پائی پاک جانیں بیچ کر کربلا میں خوب ہی چمکی دکانِ اَہلِ بیت[1]

اے عاشقانِ رَسُول! عیسائي راهِب چې د امام عالي مقام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د سر مبارک ادب اوکړو نو هغه ته د ایمان دولت نصیب شو، بل خوا په ظاهره کلمه ویونکي یزیدیان بدبخته لالچیان وو، د هغوئي حِرص، د دُنیا د دولت خواهش دوئي برباد کړه، دغه بدبختو یزیدیانو چې د امامِ عالي مقام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د خیمو نه کومې درهمې او دینارونه لوټ کړي وو او کوم ئې چې د راهِب نه اخستې وو، د هغې د تقسیمولو د پاره ئې چې کله د تهیلو خُلے پرانستې نو اوئې کتل چې هغه ټول درهمونه او دینارونه ټِکرې [یعني ګودرې] جوړ شوي دي، د هغه ټِکرو په یو طرف د سیپارې 13، سُورَۀ اِبۡرَاهِیۡم دا آیت لیکلے شوے وو:

وَ لَا تَحۡسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا یَعۡمَلُ الظّٰلِمُوۡنَ ؕ

(پارہ:13،سورۂ ابراهیم:42)

[مفهوم]ترجمهٔ کَنۡزُ العِرۡفان: او (اے اوریدونکیه!) هیڅ کله الله د هغه کارونو نه بے خبره مه ګڼړه کوم چې ظالمَان کوي.

او په بل طرف د سیپاره 19، سُوۡرَۀ شُعَرَاء دا آیت مبارک لیکلے شوے وو:[2]



[1]...ذوق نعت، صفحه:103۔

[2]...الصواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، فی فضائل اهل البیت، صفحه:246۔

www.dawateislami.net

وَ سَیَعۡلَمُ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡۤا اَیَّ مُنۡقَلَبٍ یَّنۡقَلِبُوۡنَ ﴿۲۲۷﴾ [مفهوم]ترجمۂ کَنزُالعِرفان: او نزدې ده چې ظالمَانو ته به پته اولګي چې [د انجام] په کوم طرف ور مخامخ شي. (پارہ:19،سورۂ شعراء:227)

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بیت! څومره د عِبرت خبره ده! د حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د سر مبارک د ادب کولو په برکت یو غیر مسلمه ته د ایمان دولت نصیب شو او بل خوا په یزیدیانو بدبختانو تندر راپریوتو، د هغوئي د غلطو حرکتونو د نتیجے یو وړوکې شان نظاره اوښودلے شوه، د هغوئي د سرو زرو سِکې ټِکري جوړ شو، دا د قدرت د طرف نه د عبرت یو سبق وو چې اے بدبختو! تاسو د دې فاني دُنیا په خاطِر د دین نه مخ واړولو، په آلِ رسول (یعني د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اولاد) باندې مو ظُلم اوکړو...!! **یاد ساتئ!** د دین نه تاسو سخته بے پرواهي اوکړه او د کومې فاني او بے وفا دُنیا د حاصلولو د پاره چې مو داسې اوکړه، هغه به هم ستاسو په لاس نه راځي، تاسو په دُنیا او آخرت کښې نقصان موندونکي شوئ.

تم نے اُجاڑا حضرتِ زہرا کا بوستاں    تم خود اُجڑ گئے، تمہیں یہ بد دُعا مِلی
رسوائے خلق ہوگئے، برباد ہوگئے    مردُودو! تم کو ذِلّتِ ہر دوسَرا مِلی
دُنیا پرستو دِین سے منہ موڑ کر تمہیں    دُنیا مِلی نہ عیش و طَرب کی ہوا مِلی

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د امامِ حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مختصر تَعارُف او فضائل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** امام عالي مقام، حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډیره لویه هستي ده، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نوم مبارک: حُسَین، کُنیت: ابو عبد الله او القاب: سِبطِ رَسُوْلُ الله (د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے) او رَیْحَانَۃُ الرَّسُوْل (یعني د رسول گل) دي.[1]

کیا بات رضا، اُس چَمَنِستانِ کرم کی زَہرا ہے کلی جس میں، حُسین اور حَسَن پھول[2]

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د هغه د کرم او رحمت د باغ خبره او مثال څه دے د کوم غوټۍ او غُنچه چې حضرت فاطمۃُ الزَّهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا او د کوم گُل چې د جنتي ځوانانو سردار حضرت امام حسن او حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما دي.

**(1)** د حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نیکه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **حُسَیْنٌ مِنِّیْ وَاَنَا مِنْ حُسَیْنٍ، اَحَبَّ اللّٰہُ مَنْ اَحَبَّ حُسَیْنًا** یعني حُسین زما نه دے او زه د حُسین نه یم، څوک چې د حُسین سره محبت کوي الله پاک د هغه سره محبت کوي.[3]

**(2)** په یو حدیث شریف کښې ئې اوفرمائیل: د حَسن او حُسین سره



[1] …کراماتِ امام حسین، صفحه:3۔
[2] …حدائق بخشش، صفحه:79۔
[3] …ترمذی، ابواب المناقب، صفحه:857، حدیث:3782۔

www.dawateislami.net

چې چا محبت اوکړو، هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې د هغوئي سره دُښمني اوکړه، هغه زما سره دښمني اوکړه[1]

**(3)** په بخاري شريف کښې روايت دے، د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **هُمَا رَيْحَانَتَایَ مِنَ الدُّنْيَا** حَسَن او حُسَين په دُنيا کښې زما دوه ګُلونه دي.[2]

*اُن دو کا صدقہ جن کو کہا میرے پھول ہیں — کیجئے رضاؔ کو حشر میں خنداں مثالِ گُل*[3]

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض کوي: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو اوفرمائيل: حَسَن او حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دواړه زما ګلونه دي. د دغه دواړو جنتي ګلونو په برکت! احمد رضا د قيامت په ورځ د ګل په شان په خندا خندا اوساته.

**(4)** او د ترمذي شريف په روايت کښې دي: حَسَن او حُسَين د جنَّتي ځوانانو سرداران دي.[4]

امامِ عالي مقام، امامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په 5 **شَعْبَانُ الْمُعَظَّمُ**، 4 هجرئ مدينه منوره کښې سترګې اوغړَوَلې.[5] 55 کاله، 5 مياشتې، او 5 ورځې ئې په دې دُنيا کښې تيرې کړې، په 10 **مُحَرَّمُ الْحَرَام**، 61 هجرئ، د جُمعے په



[1] …مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:3، صفحه:182، حديث:4777۔
[2] …بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب الحسن والحسين، صفحه:949، حديث:3753۔
[3] …حدائق بخشش، صفحه:77۔
[4] …ترمذی، ابواب المناقب، صفحه:855، حديث:3775۔
[5] …امام حسين کی کرامات، صفحه:3۔

www.dawateislami.net

ورځ ډير په ظُلم سره شهيد کړے شو.[1] هغوئي په حق باندې د ثابت قدمئ، د باتورئ، استقامت او صبر او رضا يو لازوال مثال قائم کړو.

باغِ جنّت کے ہیں بہرِ مدح خوانِ اَہلِ بیت — تم کو مژدہ نار کا اے دشمنانِ اَہلِ بیت
ان کی پاکی کا خُدائے پاک کرتا ہے بیاں — آیۂ تطہیر سے ظاہر ہے شانِ اَہلِ بیت
اُن کے گھر میں بے اجازت جبرئیل آتے نہیں — قدر والے جانتے ہیں قدر و شانِ اَہلِ بیت
کس شَقی کی ہے حکومت ہائے کیا اندھیر ہے — دِن دہاڑے لُٹ رہا ہے کاروانِ اَہلِ بیت
گھر لُٹانا جان دینا کوئی تجھ سے سیکھ جائے — جانِ عالَم ہو فدا اے خاندانِ اَہلِ بیت[2]

**وضاحت**: د اهلِ بيت شان بيانوونکو نصيب جنّت دے او اے د اهلِ بيتو دُښمنانو! ستاسو د پاره اور دے، الله پاک په آيۀ تطهير (اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَ يُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا) کښې د اهلِ بيتو شان او پاکي بيانوي او حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام هم د اهلِ بيتو کور ته بغير اجازته نه داخليدلو ځکه چې صرف عِزَّت والا د اهلِ بيت په عظمت [يعني لوړ والي] پوهيږي، دا د کوم بدبخته حکومت دے؟ دا څه ظُلم دے؟ چې د ورځې د اهلِ بيتو قافله لوټ کولے شي، د حق په لاره کښې خپل ځان قربانول او خپل هر څه قربانول دې خلق ستاسو نه زده کړي، اے **د اهلِ بيتو خاندانه**! په تاسو دې د ټول عالَم ځان قربان وي.



[1] …سوانح کربلا، صفحه:170۔

[2] …ذوقِ نعت، صفحه:103101100ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

## زمکو او آسمانونو اوژړل، د وينې باران اوشو

علامه ابنِ حجر مکي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ذِکر کوي: چې کله حضرت امام حُسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ شهيد کړے شو نو لمَر تندر اونيولو، آسمان سُور شو، دريو ورځو پورې په دُنيا تياره خوره وه، تر دې پورې چې د ورځې ستورې په نظر راتلل، د ډيرو ورځو پورې د آسمان نه وينې څڅيدلې، چې کومه کپړا به په هغې رنګ شوه، د هغې سُور والے به د ريخې ريخې کيدو پورې نه تللو، په **بَيۡتُ الۡمُقَدَّس** کښې چې به په هغه ورځ کوم کانړے اوچتولے شو، د هغې نه به تازه وينه وتله، د دې حال ليدلو سره د خلقو ګُمان شو چې کيدے شي قيامت راغلے دے.[1] په زمکو او آسمانونو کښې د غم يو کيفيت وو، ټوله دُنيا په غم کښې وه، آسمان اوژړل، زمکې اوژړل، د پيريانو د غمژنو اشعارو لوستلو آوازونه واوريدے شو. اَللّٰهُ اَکۡبَر!

ہزاروں میں بہتّر (72) تَن تھے تسلیم و رضا والے　　حقیقت میں خُدا اُن کا تھا اور یہ تھے خدا والے

کسی نے جب وطن پوچھا تو حضرت نے یہ فرمایا:　　مدینے والے کہلاتے تھے 'اب ہیں کربلا والے

حسین ابنِ علی کی کیا مدد کر سکتا تھا کوئی　　یہ خود مشکل کُشا تھے اور تھے مشکل کشا والے

دوائے دَرۡدِ عصیاں پنج تن کے در سے ملتی ہے　　زمانے میں یہی مشہور ہیں دارُالشفا والے



[1]...الصواعق المحرقة، الباب الحادی عشر، فی فضائل اہل البیت، صفحہ:241240۔

## کربلا د ژوند سبق دے

اے عاشقانِ رَسُول! یقیناً کربلا ډېره د غم او زړه درزوونکې واقعه ده، خو یاد ساتئ! کربلا صرف یوه غمژنه واقعه نه ده، غمژنې واقعې په دُنیا کښې ډېرې شوې دي، د ظُلم و سِتَم ډېرې قیصې په دې زمکه شوې دي خو هغه ټولې ختمې شوې، نن د خلقو په زړه او دماغو کښې د هغې خیال هم نشته، که کربلا هم صرف یوه غمژنه واقعه وے نو تقریباً د 1382 کلونه تیریدلو باوجود به په ذهنونو کښې داسې تازه نه ساتلے کیدله، ځکه کربلا صرف یوه واقعه نه ده، دا د ژوند د سبق پوره یو کتاب هم دے، د کربلا واقعه مونږ ته د کامیابئ یوه لاره هم راښائي، د ترقئ رازونه هم راښائي، د ژوند اُصُول هم راته ښائي او د عظمت او شان سره د ژوند تیرولو سبق هم راکوي.

## رساله "کربلا کا خونی منظر"

د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه یوه رساله ده: **کربلا کا خونی منظر**. دا رساله اَصل کښې د یو خط جواب دے، چا د امیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه په بارګاه کښې خط اولیکو، په کوم کښې چې وئیلے شوي وو چې هغوئي ته د نیکئ د دعوت په لاره کښې رُکاوټونه او مُشکلات راځي

ته کېږي، امیرِ اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د دې په جواب کښې د کربلا خونی منظر بیان کړو او اوئې وئیل چې د کربلا شهیدانو د کربلا په میدان کښې کوم ظُلم اوزغملو، کوم ظُلمونه پرې اوشو، دا ټول د نیکئ د دعوت ورکولو په وجه وو، ځکه چې کله هم د نیکئ د دعوت په لاره کښې رُکاوټونه رامخې ته کېږي نو په حضرت امام حُسین او د هغوئي په ملګرو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د یزیدیانو له خوا شوي ظُلمونه په خیال کښې راولئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! هِمَّت او حوصله به نصیب کېږي او د نیکئ د دعوت عام کولو جذبه به هم میلاویږي.

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د نیکئ دعوت عام کول د یو مسلمان د ژوند یوه اَهَمَّه حِصَّه ده، د کربلا د واقعې نه د نیکئ د دعوت ورکولو جذبه هم میلاویږي او په دې لار کښې د راتلونکو خنډانو مخې ته د استقامت غر جوړیدو، د ظلم زیاتي کولو یا د طعنو پیغورونو زهرژن غشي ویشتلو، د هغې هم په کلکه د مخامخ کیدو حوصله میلاویږي. امیرِ اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ په خپلو اشعارو کښې څومره ښکلې نصیحت فرمائي:

رونا مصیبت کا مت رو تُو پیارے نبی کے دیوانے کرب و بلا والے شہزادوں پر بھی تُو نے دھیان کیا

پیارے مبلغ! معمولی سی مشکل پر گھبراتا ہے دیکھ حسین نے دین کی خاطر سارا گھر قربان کیا[1]



[1]...وسائل بخشش، صفحه:197۔

## د غير مسلمو خيالات

يو غير مُسلِمه وو، په هغه ډير ظلمونه اوشو، هغه وائي: ما تر 20 کالو پورې جيل تير کړو، ناحقه ظُلم مې برداشت کړو، يوه شپه ما فيصله اوکړه چې د ظالِم په مخ کښې سر ټيټوم، بيا ناڅاپه ما ته د حضرت امام حُسين (رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ) او د کربلا واقعه رايادہ شوه، بس! د هغې نه ما ته حوصله ميلاؤ شوه او زه د ظالم مخے ته اودريدم. يو بل غير مسلمه وائي: **کربلا** هغه يو جدا جنګ دے کوم چې د شهادت سره سره انسانانو ته اخلاقي سبق هم عطا کړے دے.

اَللّٰهُ اکبر! اے عاشقانِ رَسُول! دا غير مُسلمه دي، کوم چې د کربلا نه سبق اخلي، د امامِ حُسين رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ بے مثاله استقامت يادولو سره خپلې حوصلے اوچتوي. د دې نه پته لګي چې کربلا صرف يوه غمژنه واقعه نه ده، يو درس هم دے، يو سبق هم دے، د کربلا واقعه مونږ ته د ژوند اُصول هم راښائي او په شان سره ژوند تيرول هم راښائي.

انسان کو بیدار تو ہو لینے دو ہر قوم پکارے گی ہمارے ہیں حُسَین

**سَر! دا هر څه خو مونږ ته کربلا هم راښائي...!!**

يو اسلامي ورور وائي: ما په ***B.A*** کښې سبق وئيلو، د ***B.A*** په انګلش کښې يو ناول ښودلے شي، يوه ورځ استاذ د هغه ناول په باره کښې ليکچر

راکړو، اوئې وئيل: د دې ناول ليکوال د يورپ يو مُفَکِّر دے، په دويم عالمي جنګ کښې دا د يو فوځي په طور شريک شوے وو، د دويم عالمي جنګ نه پس چې په يورپ کښې کوم انقلاب راغے، يورپ چې کومه ترقي اوکړه، د دې انقلاب او ترقۍ بنياد چې په کومو نظرياتو وو، هغه نظريات وړاندې کوونکو مُفَکِّرينو کښې يو مُفَکِّر د دې ناول ليکوال هم دے، ليکوال په دې ناول کښې په خپل خاص انداز کښې د کاميابۍ اُصُول او د ناکامۍ اسباب بيان کړي دي. بيا استاذ د هغه ناول په باره کښې ليکچر شروع کړو، مُصَنِّف وائي: که چرې مونږ ته د ژوند په سفر کښې کاميابيدل دي نو د دې د پاره د صبر او برداشت سخت ضرورت دے، مونږ ته د کاميابۍ د پاره د برداشت قوت لرل پکار دے، د کاميابۍ د پاره مونږه په نورو باور [يعني بروسه] نه شو کولے، مونږ له به په خپل ځان اعتماد کول وي خو د دې سره سره په ځان د زيات اعتماد کولو نه به هم ځان ساتل وي.

اسلامي ورور وائي: استاذ د ناول د قيصې نه ميلاؤيدونکي سبق په باره کښې بيان کولو او زما په ذهن کښې د کربلا واقعه روانه وه، څنګه چې استاذ خپل ليکچر ختم کړو نو ما بے ساخته اووئيل: سَر! **دا هر څه خو مونږ ته کربلا هم راښائي**، امامِ حُسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مونږ ته صرف صبر وئيلے نه دے بلکه [عملي طور ئې مونږ ته صبر] ښودلے دے، حِلم، صبر، قوتِ

برداشت، په ځان باندې اعتماد وغيره دا ټولې خبرې امامِ حُسين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ مونږ ته څه د ليک په طور رانڪړې بلکه د عمل کولو سره ئې راته ضرور ښودلې دي.

زما د دې خبرې اوريدو سره استاذ حيران شو، بيا ئې لږ وخت پس اووئيل: آؤ! واقعي...!! د يورپ مُفَکِّر د قيصې ليکلو سره مونږ پوهه کړو خو امامِ حسين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ دا هر څه عملي طور کولو سره ښودلې دي.

انسان کو بيدار تو ہو لينے دو　　　ہر قوم پُکارے گی ہمارے ہيں حُسَين

## د کاميابۍ 3 اُصُول

دغه شان يو غير مسلمه مُفَکِّر دے، هغه په خپل طور يوه تجزيه اوکړه او اوئې وئيل: په ژوند کښې د کاميابۍ 3 اُصول دي: **(1)**: د لوړې برداشت کولو طاقت **(2)**: انتظار **(3)**: د سوچ کولو او پوهيدو صلاحيت.

دا درې اُصُول يو غير مسلمه مُفَکِّر بيان کړي دي، لږ دا اُصول مخے ته کيږدئ او د کربلا واقعه په ذهن کښې راولئ! په کربلا کښې مونږ ته دا درې واړه خبرې ميلاويږي:

**(1)** غير مسلمه مُفَکِّر اووئيل: د کاميابۍ د پاره د لوږې برداشت کولو طاقت ضروري دے، د کربلا په ميدان کښې مونږه ګورو چې سخته ګرمي ده، شګلنه او توده زمکه ده او د ورځې سخته لوږه تنده ده، د حضرت امامِ

حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه واخله تر د ماشوم شهزاده حضرت علـي اصغر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پورې ټول ترږي دي، كه صرف تنده وه نو بيله خبره وه، دلته د تندې په حالت كښې جنګ هم دے، د خپل طرف نه د جنګ كولو څه اراده هم نشته، د الله او رسول په عطا سره د هر څه كولو هِمَّت او طاقت هم دے، اختيار هم دے خو قربان شم! سختې تندې هم د دغه لويو هستيانو شپې اونه خوئيولے، تازه دَم د يزيد د لښكرو حمله هم دوئي د حق لارې نه نشي لرې كولے، د آلِ رسول د ازمرې صفت لرونكي ځلمي په سخته تنده كښې هم يزيديان ټوټے ټوټے كوي، دا د هغوئي د بے مثاله استقامت او باكماله د برداشت قوت دے چې دوئي د تندې باوجود كمال بهادري كوي او شهادتونو ته ورغاړه ورځي خو د حق خبرې نه لږ هم نه وروستو كيږي.

یوں تو شہید لاکھوں ہوئے ہیں یہاں مگر
رُتبہ کسی کو آپ کے جیسا مِلا نہیں
لرزہ نہ بھوکا پیاسا بھی باطِل کے سامنے
میرے حُسَین جیسا کوئی دِل مِلا نہیں

**(2)**: غير مسلمه مُفَكِّر دويمه خبره اوكړه چې د كاميابئ د پاره انتظار ضروري دے، يعني كوم كَس چې د كاميابئ طلب ګار دے، هغه دې د صبر نه كار اخلي، په اطمينان سره دې د صحيح وخت انتظار كوي، يو ساعت دې هم بے صبري نه ښائي. دا خبره هم د امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په پاكيزه سيرت كښې اوګورئ! په انسان باندې په ژوند كښې تكليفونه

راځي، غمونه راځي خو که چرې د تکليف او غم خبر د مخکښې نه ميلاؤ شي نو هغه غم صرف غم نه پاتې کيږي، د ځان وبال جوړيږي، مثال طور په مونږه کښې هر کَس له مرګ راتلونکے دے، که چرې چاته مخکښې اووئيل شي چې ستا صرف يوه ورځ پاتې ده، بله ورځ به ته مړ کيږې نو کيدے شي چې هغه يوه ورځ هم زمونږ د پاره د ځان وبال جوړه شي، په مخ به مايوسي خوره شي، زړه به په غم کښې ډوب شي، زړه به ئې خوراک څښاک ته نه کيږي نو قربان شم! د امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د صبر او اِستِقامت نه...!! د امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولادت کيږي، ورسره سَم جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام د شهادت خبر راوړي او حاضريږي، لا اوس د امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وړوکوالے دے، د هغوئي د شهادت خبر مشهور شوے دے، هغوئي 55 کاله ژوند د کربلا سخت تکليفونه مخے ته د ساتلو سره تير کړو، هغوئي ته پته وه چې د کربلا په ميدان کښې به بدنصيبه او بدبخته خلق ډير په ظُلم سره هغوئي شهيد کوي خو مجال شته چې د امامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په استقامت کښې څه فرق راشي، په 55 کاله عمر کښې يو ساعت هم داسې نشته چې کله هم امامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بے صبري کړې وي، هغوئي چرې هم دا دُعا اونکړه چې يا الله پاکه! ما ته د دې ازميښت نه نجات راکړې، هغوئي په صبر و استقامت سره 55 کاله ژوند د

کربلا په انتظار کښې تیر کړو، آخرکار د کربلا په میدان کښې د خپل نیکه، رحمتِ عالَم، محمَّد مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دین ځان قربانولو سره ډیر په عِزَّت او شان سره شهادت قبول کړو.

گھر لُٹانا جان دینا، کوئی تم سے سیکھ جائے جانِ عالَم ہو فِدا اے خاندانِ اَہلِ بیت[1]

**(3)** غیر مسلمه مُفَکِّر دریمه خبره اوکړه چې څوک د کامیابئ طلب ګار دے، د هغه د پاره ضروري ده چې هغه د سوچ او پوهې صلاحیت لري، که په هغه هر څومره سخت وخت ولې رانشي، هغه د خپل سوچ او پوهې صلاحیت خړیدو ته پرې نه ګړدي، هر وخت، په هر حال کښې د سوچ او پوهې سره د بهترو نه بهتره فیصله اوکړي. دا یو ډیر مشکل او ګران کار وي، دلته چې څوک وفات شي نو د هغوئي کور والؤ، مور و پلار ته ډیر په احتیاط سره خبر ورکول وي چې هسې نه ناڅاپه د غم خبر اوریدو سره ئې هوش لاړ نشي خو قربان شم! د امام حُسین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هِمَّت او حوصلے څومره ښه شان دے....!! هغوئي د حضرت علي اصغر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شهید کړے شوے وجود مبارک په خپلو لاسونو راپورته کوي، ورور، وریرونه، خوریونه، 72 کسان د کربلا په میدان کښې د امامِ حسین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مخامخ شهیدان کیږي، هغوئي پخپله د هغوئي شهید شوي وجودونه په



[1]...ذوقِ نعت، صفحه:103۔

www.dawateislami.net

خپلو لاسونو مبارکو اوچتوي او د خيمو سره ئې خوا کښې کېږدي، د داسې غم او پريشانئ باوجود ئې هوش او حَواس سلامت دي، د فيصلے کولو طاقت په ځائے دے، د تاريخ د يو کتاب نه د دُنيا يو کَس دا [خبره] نشي ثابتولے چې امام حُسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د کربلا په ميدان کښې د غم د زياتوالي په وجه يوه فيصله هم د شريعت خلاف کړې وي، نه! نه....!! د غم تيارې دي، ډير ظُلم و سِتم دے، د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسي د قرآن و سُنّت لمَن په مضبوطيا سره نيولې ده او هر يو قدم عين د شريعت مطابق اخلي، آخر شهادت سينې سره لګوي خو د هغوئي په حوصله کښې لږ شان کمے هم نه راځي.

ابنِ علی کے جیسا کوئی دوسرا نہیں
تیغوں کے سائے میں بھی جو دِل باختہ نہیں
ہو مثل آپ کے جو مہک دار یا حُسَین
صحنِ چمن میں کوئی گُل ایسا کِھلا نہیں
ہر سُو رواں ہے آج بھی سِکّہ حُسَین کا
سِکّہ یزیدیوں کا کہیں پر چلا نہیں

اے عاشقانِ رَسُول! د دې ټولو خبرو عرض کولو مقصد دا دے چې اوګورئ! د نن سبا مُفَکِّرين چې د کاميابئ، ترقئ او انقلاب کومې لارې ښائي، اوګړدې اوکړدې ليکچرې ورکوي، دا ټولې خبرې د نن نه تقريبا ديارلس سوه دوه اتيا (1382) کاله مخکښې د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزاده، حضرت امامِ حُسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ (عملي طور) کړې دي، د کربلا په

میدان کښې دا ټولې نظرئیے موجودې دي.

وہ مشرقی پکار ہو یا مغربی صدا     تفریقِ رنگ ونسل پہ غالِب ہے کربلا
شاعِر کسی خیال کا ہو یا کوئی اَدِیب     واعِظ کسی دیار کا ہو یا کوئی خطیب
دیکھو تو سلسلہ ادبِ مَشْرِقَیْن کا     دُنیا کی ہر زبان پہ قبضہ حُسَیْن کا

## آیا واقعي مونږه حُسیني یو...؟؟

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه واوریدل چې کربلا د ژوند یو درس دے، د نن سبا مُفَکِّرین چې کومې نظرئیے بیانوي او خپله دکانداري کوي، امامِ عالي مقام، امام حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هغه هر څه مونږ ته د مخکښې نه د کربلا په میدان کښې عملي طور د کولو سره ښودلي دي. اوس مونږ له غور کول پکار دي چې آیا مونږه هم د امامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه، د کربلا نه څه زده کړه او که نه...؟؟ د امامِ عالي مقام، امامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوچت شان دے، یقیناً هر یو عاشقِ رسول د امامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت هم کوي، ځان ته حُسیني هم وائي او په خپل حُسیني توب فخر هم کوي، بیشکه حُسیني کیدل، د امامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبّت او عقیدت ساتل ډیر لوئ سعادت دے.

خو ډیره د افسوس خبره ده، ډیر ګڼړ شمیر خلق دي کوم چې صرف په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې، هغه هم صرف په دیني اجتماعاتو کښې او هلته هم

صرف زباني او د خبرو تر حده پورې حُسيني وي. چې مونږه غور اوکړو؟ آيا واقعي مونږه حُسيني يو؟ آيا مونږه په كور كښې هم حُسيني يو؟ په كوڅه كښې، محله كښې، په دكان كښې، د كاروبار په وخت، دفتر كښې، د ملګرو په محفل كښې آيا مونږه حُسيني يو؟ لكه څنګه اخلاق، څنګه كردار، څنګه پاک عادتونه چې د امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وو، آيا مونږه د امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په پيروئ كښې د هغوئي په شان د اخلاقو، هغه شان كردار، هغه شان عادتونو خپلولو كوشش كوو؟ د عِلمِ دين هغه مبارك سمندر كوم چې د امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په سينه مباركه كښې پروت وو، آيا مونږه د هغه عِلم زده كولو په لور مخ په وړاندې ځو؟ مونږه په ديني اجتماعاتو كښې د شركت كولو سره د امامِ حسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د شان و عظمت نعرې لګوو، ډېره ښه خبره ده خو چې كله مونږه كور ته لاړ شو او د خپلو بچو په لاس كښې موبائل وينو، هغوئي په تې وي لګولو وينو، آيا مونږه چرته غور كړے دے چې مونږه د دې تې وي په ذريعه خپلو بچو ته حُسينيت وركوو؟ زمونږه بچے چې كله د كتابونو بسته په شا كړي او د زدكړې د پاره ځي، آيا مونږه چرته دا سوچ كړے دے چې په دې كتابونو كښې دننه حُسينيت شته او كه نه؟

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! مونږه حضرت امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ منو هم، د امام حُسين

رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره د محبّت دعویٰ هم کوو، ځان ته حُسيني هم وايو او په دې فخر هم کوو خو افسوس! چې مونږه د کربلا نه سبق نه اخلو، د امامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په نقشِ سِيرت د تللو کوشش نه کوو، زمونږه کردار، زمونږه اخلاق، زمونږه طور و طريقے زمونږه د حُسيني کيدو ګواهي نه ورکوي.

آپ ہی تو کلمۂ طیب کے ٹھہرے پاسباں  آپ کے سر ہی بقائے دِیں کا سہرا حُسَین!
ہم تو سچّا عشق بھی تم سے نہیں کر پائے ہیں  اور تم نے ہم سبھی کو خُون دے ڈالا حُسَین!

## د يزيد بد کردار او د عبرت درس

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لږ غور اوکړئ! حضرت امامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دومره غټه قرباني ولې ورکړه...؟ يقيناً د هغوئي د تاج و تخت او حکومت سره هډو څه کار نه وو، هغوئي خو د جنّتي ځوانانو سردار دے، د الله پاک په عطا سره چې چا ته د جنّت حکومت او سرداري ميلاؤ وي، هغه د دُنيا د عارضي حکومت حِرص څنګه کولے شي؟ خو غورِ طلب خبره ده، چې امامِ حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ آخر د يزيد بيعت ولې نه کولو؟ آيا د هغوئي د يزيد د ذات سره اختلاف وو؟ نه... د هغوئي د يزيد د ذات سره اختلاف نه وو، د هغوئي د يزيد د کردار سره اختلاف وو. که چرې د يزيد بدبخته کردار صفا وے، هغه بد انجامه د قرآن و سُنَّت په لار روان وے نو حضرت امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به چرې هم د هغوئي د بيعت نه انکار نه وو کړے خو

د هغه بدبخته کردار ښه نه وو، د هغه اخلاق ښه نه وو، د هغه عادتونه خراب وو، يزيد فاسِق وو، يزيد فاجِر وو، يزيد زنا کار وو، يزيد شرابي وو، يزيد به د قرآن و سُنَّت مخالَفَت کولو، ځکه حضرت امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغه بيعت اونکړو او داسې بے زواله [يعني نه ختميدونکي] قرباني ئې ورکړه.

اوس لږ غور اوکړئ! چې کله امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د يزيد د بد کردار نه خوشحاله نه شو نو که چرې هغه کردار زمونږه هم وي کوم عادتونه چې د يزيد وو، هغه شان عادتونه زمونږه هم وي، لکه څنګه ګنده اخلاق چې د يزيد وو، هغه شان مونږه هم يو نو آيا امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به زمونږ نه خوشحاله شي...؟؟ [هيڅ کله به هم خوشحاله نه شي]

راځئ! ګورو چې د يزيد کردار څنګه وو؟ د يزيد پليد هغه کوم ګنده عادتونه وو، د کومې په وجه چې امامِ حُسين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغه بيعت اونکړو:

## (1) يزيد سُنَّت بدلوونکے وو

په غيبو باندې خبردار آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَوَّلُ مَنْ يُبَدِّلُ سُنَّتِي رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ اُمَيَّةَ يُقَالُ لَهٗ يَزِيْدُ زما سُنَّت بدلوونکے وړومبے کَس به د بنو اُمَيَّه نه وي، هغه ته به يزيد وئيلے شي.[1]

323

[1]...تاريخ دمشق لابن عساکر، جلد:65، صفحه:250۔

معلومه شوه چې يزيد سُنَّت بدلوونکے، خلافِ سُنَّت کارونو رواج جوړولو والا وو، دې بدبخته به پخپله هم په سُنَّتِ مصطفٰـی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمل نه کولو او نور خلق به ئې هم د سُنَّت خلاف کارونو د پاره را پارَوَل. اوس چې مونږه په خپل ځان لږ غور اوکړو! مونږه څومره په سُنَّتو عمل کوو؟ آيا زمونږه جامې د سُنَّتو مطابق دي؟ زمونږه د ژوند د تيرولو انداز، زمونږه ناسته پاسته، د ګرځيدو انداز، زمونږه مخ، زمونږه طور و طريقے، زمونږه رسمونه څه دي آيا دا هر څه د سُنَّتو مطابق دي؟ زمونږه په معاشره کښې چې کله څوک په سُنَّت عمل کوي آيا هغوئي ته خلق ترخې خبرې نه کوي؟ په سر عمامه په سر کولو، په مخ د ګيرې ساتلو، د سُنَّت مطابق په جامو اغوستونکو ګوتې نه اوچتولے کيږي؟ آيا په هغه عاشقِ سُنَّت پورې ملنډې نه کيږي...؟ افسوس! اوس هم ګڼړ شمير مسلمانان دي کوم چې پخپله خو د سُنّت نه لرې دي، د دې سره سره په سُنَّتو عمل کوونکو ته په کوږ نظر هم ګوري.

آه! وه دَور آیا کہ دیوانۂ نبی کے لئے ہر ایک ہاتھ میں پتھر دِکھائی دیتا ہے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د سُنَت مخالَفَت کول او د سُنَّت خلاف کارونو رواج جوړول د يزيد بد کردار دے، که چرې مونږه حُسيني يو او مونږ له واقعي حُسيني کيدل پکار دي، نو مونږ له پکار دي چې مونږه د

يزيد د دې بد کردار نه نفرت اوکړو، مونږه پخپله هم په سُنّتو عمل اوکړو او نورو ته هم د سُنّت ترغيب ورکړو.

## د سُنّت په فضيلت باندې 3 احاديث

**(1)** تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي.[1]

**(2)** يوه ورځ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 3 ځله اوفرمائيل: زما په نائب دې د الله پاک رحمت وي. عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوک دے؟ اوئې فرمائيل زما د سُنّت سره محبت کوونکے او نورو ته ښودونکے.[2]

**(3)** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ تَمَسَّكَ بِالسُّنَّةِ دَخَلَ الْجَنَّةَ يعني چا چې زما سُنّت په مضبوطيا سره اونيولو هغه به جنّت ته ځي.[3]

پڑوسی خُلد میں عطّاؔر کو اپنا بنا لینا جہاں ہیں اتنے اِحساں اور اِحساں یارسولَ اللہ

323

[1]…تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]…جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حديث:220۔

[3]…جامع صغير، صفحه:522، حديث:8603۔

الله پاک دې مونږه د سُنّتو نمونے جوړې کړي، مونږ له پخپله په سُنّتو باندې عمل کول دي، د دې سره سره نورو ته هم د دې دعوت ورکول دي، اوس هغه ناپوهه [خلق] کوم چې مَعَاذَ الله! د نیکۍ په لاره کښې رُکاوټ جوړېږي، په سُنّتو باندې عمل کوونکو ته په ترَس ګوري، په هغوئي پورې خاندي، هغوئي له ویریدل پکار دي، د نیکۍ نه منع کول یا د دې په لاره کښې رُکاوټ جوړیدل د کافرانو انداز دے، ولید بن مغیره کوم چې ډیر غټ ګستاخِ رسول او پوخ کافِر وو، الله پاک د هغه یو بد صفت دا بیان کړے دے:

**مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ** (پاره:29،سورۂ قلم:12) **[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الایمان:** د نیکۍ نه غټ منع کوونکے.

الله! الله! معلومه شوه چې د نیکۍ په لاره کښې رُکاوټ جوړیدل د مسلمان نه د کافِرانو کار دے، یو رښتینے حُسیني د نیکۍ نه منع کول نه کوي بلکه د نیکو ترغیب ورکوي، الله پاک دې مونږ ته هم د نیک جوړیدو او د نیکۍ دعوت عام کولو توفیق راعطا کړي.

مجھے دے خود کو بھی اور ساری دنیاوالوں کو سدھارنے کی تڑپ اور حوصلہ یا رَبّ

## (9-2) د یزید پلید 7 بد عادتونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** یقیناً امامِ حُسین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د یزید پلید د بدو کارونو نه ښه خبر وو، اوس راځئ! ګورو چې امامِ حُسین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

پخپله د یزید بد کردار څنګه په ښکاره کړو. صدرُ الافاضِل، مفتي نعیمُ الدِّین مراد آبادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکي: چې کله د امام عالي مقام، امامِ حُسین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ مخې ته د یزید بدبخته بیعت وړاندې کړې شو نو هغوئي اوفرمائیل: لِاَنّهٗ كَانَ فَاسِقًا، مُدۡمِنَ الۡخَمَرِ ظَالِماً یزید فاسِق (یعني ښکاره غټ ګناهونه کوونکے)، د شرابو عادت لرونکے او ظالِم دے (زه د هغه بیعت څنګه کولے شم).[1]

## د امامِ حسین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ خطبه

چې کله امامِ حُسین رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د کربلا میدان طرف ته تشریف وړلو، په لاره کښې یو مقام باندې هغوئي د یزید د لښکر مخې ته خطبه ورکړه اوئې فرمائیل: اے خلقو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بیشکه چې څوک داسې حکمران اووینې، څوک چې ظُلم کوي، د الله پاک حرام کړے شوي څیزونه حلال ګرځوي، د الله پاک سره کړے لوظ ماتوي، د سُنَّت مخالَفَت کوي، په خلقو کښې د ګناهونو او ظلم و زیاتئ رواج جوړوي، لیدونکے که چرې داسې ظالِم د غلطو کارونو نه په لاس منع نکړي، نو په ژبه دې منع کړي، [که چرې لیدونکے دا کار اونکړي او ظالِم په ظُلم کولو وینې او هیڅ غږ نه کوي نو] په الله پاک باندې حق دے



[1] ...سوانح کربلا، صفحه:114۔

www.dawateislami.net

چې دغه (ليدونكے) د هغه (ظالِم) سره اوساتي. خلقو! واورئ...!! بيشكه دې يزيديانو د شيطان اطاعت په ځان لازم كړو، د رحمٰن اطاعت ئې پريښودو، په خلقو كښې ئې فساد خور كړو، د الله پاک حدونه ئې مات كړه، د الله پاک حرام كړے شوې څيزونه ئې حلال او حلال كړے شوې څيزونه ئې حرام اوګرځول او زه د دې خبرې زيات حق لرم[1] چې د داسې ظالم مخے ته كَلِمَهٔ حَق اوچته كړم.

اے عاشقانِ رَسُول! امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د يزيد پليد 7 بد عادتونه بيان كړل: **(1)** يزيد فاسِق دے **(2)** يزيد شرابي دے **(3)** يزيد ظالِم دے **(4)** يزيد د رحمٰن اطاعت پريښودو او د شيطان پيروي كوي **(5)** يزيد فساد خوروي **(6)** يزيد د الله پاک حدونه ماتوي **(1)** يزيد د الله پاک حلال كړے شوي څيزونه حرام او حرام كړے شوي څيزونه حلال ګرځوي.

## د ګناهونو نحوست!

اوس كه مونږه په خپل كردار غور اوكړو! يزيد فاسق وو، فاسق هغه ته وائي: څوک چې ښكاره ګناه كوي. دلته څومره داسې خلق دي كوم چې د ښكاره ګناهونو كولو نه ځان ساتي؟ ګيره خَرَوَل يا د يو موټي نه كمه ساتل حرام دي، څومره خلق دي كوم چې ګيرې خَرَوي او د يو موټي نه ئې



[1]...تاريخ طبرى، جلد:3، صفحه:306خلاصةً۔

www.dawateislami.net

کمې ساتي؟ سندرې باجې ښکاره غږيږي، موټر، بس وغيره چلوونکي په تيز آواز د سندرو غږولو سره ګناه هم کوي او د خپلو ګناهونو اعلان هم کوي. په کورونو کښې په تيز آواز سندرې باجې غږيږي، ښکاره فلمونه کتلے کيږي، ډرامې کتلے کيږي، چې چرته واده وي، نو بيا خو د ټولې محلے والا خوبونه حرام وي او پته نه لګي چې څنګه څنګه غټې ګناهونه ښکاره کيږي.

د کربلا د واقعې سبق دا دے او اصل حُسيني کيدل دې ته وئيلے شي چې مونږه د ګناهونو نه بچ شو. الله پاک په قرآنِ پاک کښې ارشاد فرمائي:

وَ مَنۡ یُّشَاقِقِ الرَّسُوۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَیَّنَ لَهُ الۡهُدٰی وَ یَتَّبِعۡ غَیۡرَ سَبِیۡلِ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰی وَ نُصۡلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَ سَآءَتۡ مَصِیۡرًا ﴿۱۱۵﴾

(پاره:5،سورۀ نساء:115)

[مفهوم]ترجمۀ کَنزُالعِرفان: او څوک چې د دې نه پس چې د هغه د پاره هدايت بالکل واضحه شوے وي د رسول مخالفت اوکړي او د مسلمانانو د لارې نه په جدا لاره لاړ شي نو مونږه به هغه هم هلته روان کړو چرته چې هغه ځي او هغه به دوزخ ته داخل کړو او هغه د واپس کيدو څومره بد ځائے دے.

خوږ آقا، محمّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ اللهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلَا تُضَيِّعُوۡهَا الله پاک څه فرائض مقرر کړي دي هغه مه ضائع کوئ،

وَحَرَّمَ حُرُمَاتٍ فَلَا تَنْتَهِكُوْهَا څه څيزونه ئې حرام کړي دي هغه سپک مه ګڼرئ، وَحَدَّ حُدُوْدًا فَلَا تَعْتَدُوْهَا او څه حدونه ئې قائم کړي دي د هغې نه وړاندې مه ځئ، وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَآءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلَا تَبْحَثُوْا عَنْهَا او هغه (په تاسو د رحمت فرمائيلو سره) ارادةً د بعضې څيزونو نه ئې سُکوت فرمائيلے دے [يعني خاموشي فرمائيلي] د هغې لټون مه کوئ.[1]

## شراب د ګناهونو مور ده

امام حُسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: يزيد شرابي دے. آه! افسوس...!! زمونږ په معاشره کښې هم شراب عام کيږي، اګرچې په شرابو باندې قانوناً بنديز دے خو په لکونو خلق شراب څښې، حالانکه شراب حرام دي، دې ته اُمُّ الخبائِث (يعني د ګناهونو مور) وئيلے شوې ده، الله پاک د قرآنِ کريم په سيپاره 7 سورۀ مائده آيت نمبر 90 کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَيْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾

[مفهوم] ترجمۀ کَنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! شراب او جواري او بت او د قسمت معلومولو غشي ناپاکه شيطاني کارونه دي نو د دې نه ځان بچ اوساتئ چې تاسو خير بيامومئ.

323

[1]...سنن دار قطنی، کتاب الرضاع، جلد:4، صفحه:217، حديث:4350۔

## د ظُلم غندنه

امامِ حُسین رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اوفرمائیل: یزید ظالم دے. زمونږ په معاشره کښې هم ظُلم ډیر زیات دے. د ډیرو خلقو په ذهن کښې به دا خیال راځي چې ظُلم صرف قتل ته وئیلے شي، حالانکه داسې نه ده، ناحقه قتل هم ظُلم دے، چا له ناحقه پړق ورکول هم ظُلم دے، د چا رقم په زوره ځان سره ساتل، کنزلې کول، عِزَّت خرابول، تر دې چې خلق د نیغ نیغ کتلو سره ویرَوَل، په احادیثو کښې دا هم ظُلم قرار شوے دے.

**اوس اووائې!** په مونږه کښې څومره داسې خلق دي چې هغوئي د ظُلم نه ځان ساتي، په مونږ کښې څومره دي کوم چې د نورو حقونه پوره ادا کوي ❀ په کنړو خلقو کښې د چا عِزَّت خرابول ❀ خلق ویرَوَل ❀ دهمکیانې ورکول ❀ قرضې خوړل ❀ ناحقه تکلیف رسول، دا ټول د ظُلم صورتونه په خلقو کښې ډیر عام دي حالانکه دا د یزید کردار دے ، که چرې مونږه حُسیني یو نو مونږ له پکار دي چې د مسلمان احترام اوکړو، د نورو خلقو ځاني، مالي هر قسمه حقونه پوره ادا کړو. اللہ پاک په قرآنِ پاک کښې فرمائي:

وَ کَذٰلِکَ اَخۡذُ رَبِّکَ اِذَاۤ اَخَذَ الۡقُرٰی وَ ہِیَ ظَالِمَۃٌ ؕ اِنَّ اَخۡذَہٗۤ اَلِیۡمٌ شَدِیۡدٌ ﴿۱۰۲﴾ (پاره:12،سورۂ هود:102)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُ الایمان: او هم داسې نیول دي ستا د رَبّ چې کله استوګنې رانیسي د هغوئي په ظُلم باندې بیشکه د هغه نیول دردناکه سخت دي.

علامه صاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې په هر ظُلم کوونکي لازم دي چې د خپل ظُلم نه توبه کړي او ظُلم کول پريږدي، د چا حق ئې خوړلے وي هغه دې هغه ته بيرته ورکړي چې هغوئې په هغه عظيم وعيد کښې داخل نه شي ځکه چې دا آيت د تيرو اُمّتونو [يعني تير شوي قومونو] سره خاص نه دے بلکه دا هر ظالِم ته عام دے.[1]

الله پاک دې مونږ ته د مسلمانانو سره د ښه سلوک کولو او په هغوئې د هر قسمه ظُلم او زياتي نه د بچ کيدو توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د شيطان پيروي کول د يزيد کار دے

دغه شان امامِ حُسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: يزيد د رحمٰن اطاعت پريښودي، او د شيطان تابعداري کوي.

الله! الله! دا خو ډير غټ امتحان دے ❀ لمُونځ کول د رحمٰن اطاعت دے، نه ادا کول د شيطان تابعداري ده، په مونږ کښې څومره خلق پاخه لمُونځ گزاره دي؟ ❀ نيکي کول د رحمٰن اطاعت دے، په ګناهونو کښې اخته کيدل د شيطان اطاعت دے، په مونږ کښې څومره خلق د ګناهونو نه ځان بچ ساتي؟ د رَمَضانُ المُبارک روژې نيول د رحمٰن اطاعت دے،



[1]...تفسير صاوی، پاره:12، سورهٔ هود، تحت الآية:102، جلد:3، صفحه:931۔

www.dawateislami.net

روژې نه نيول د شيطان پيروي ده، غور اوکړئ! څومره خلق روژې نيسي؟ ❀ د مور و پلار اطاعت کول ❀ د خويندو ورونړو حقونه پوره کول ❀ د ښځې حقونه پوره کول ❀ د مسلمانانو عِزَّت کول ❀ پوره پوره په اسلام کښې داخليدل، د رحمٰن اطاعت دے، د دې اُلټا کول د شيطان تابعداري ده ❀ دروغ وئيل، غيبت کول، چغلي کول، وعده ماتول، کنزلې کول، دا ټول ګناهونه دي، د شيطان پيروي ده، په مونږ کښې څومره خلق د دې ګناهونو نه ځان بچ کوي؟

دا د يزيد بد کردار دے، دا ټولې هغه خبرې دي د کومې په بنياد چې امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د يزيد د بيعت نه انکار کړے وو، د کربلا په ميدان کښې ئې لازواله [يعني نه ختميدونکې] قرباني ورکړې وه، مونږه غور اوکړو! الله دې نکړي چې زمونږه کردار هم هغه شان وي، الله دې نکړي چې مونږه په شيطان پسې روانيدونکي، فاسقان او فاجران جوړ شو نو لږ سوچ اوکړئ! آيا امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به زمونږ نه خوشحاله شي؟ هيڅ کله هم نه. دا ټولې خبرې مونږ ته د کربلا نه زده کيږي، ځکه که چرې مونږه رښتيني حُسيني يو نو مونږ له پکار دي چې مونږه د يزيد د کردار نه ځان بچ کړو، صرف په خبرو نه، د کردار حُسيني جوړ شو. الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (11) يزيد او دُنيا پرستي

اے عاشقانِ رَسُول! يوه اَهَمَّه خبره کومه چې مونږ ته د کربلا نه د زدکړې د پاره ميلاويږي، هغه دا ده چې يزيد بدبخته چې د کربلا په ميدان کښې څومره ظُلم اوکړو، د بل چا په لاس ئې اوکړو دا ټول په اصل کښې د دُنيا د محبت او د لالچ نتيجه وه. شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت **حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د يزيد پليد د مال او مرتبے محبت د کربلا د درديدلې واقعے سبب جوړ شو، دغه ظالِم بدانجامه ته د امامِ عالي مقام امامِ حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ذات مبارک نه د خپل اقتدار خطره محسوسيدله، حالانکه د امامِ عالي مقام ختميدونکي دُنيا حاصلولو د پاره دُنياوي اقتدار سره څه کار! هغوئي خو مخکښې هم د اُمّتِ مسلمه د زړونو تاجدار وو، نن هم دي او بيا به هم وي.

نہ شمر ہی کا وہ ستم رہا، نہ یزید کی وہ جفا رہی جو رہا تو نام حسین کا، جسے زندہ رکھتی ہے کربلا

## د مرتبې او مال د محبت غندنه

اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د اقتدار او مال محبت ډير غټ وبال دے، زمونږ خوږ آقا، د مدينے جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دوه اوږي شرمخان چې په چيلو [يعني د بيزو په رمه] کښې پريښودے شي، هغه به دومره نقصان اونکړي څومره چې د مال او مرتبې لالچ د انسان دين

ته نقصان رسوي.[1]

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: حُبُّ الدُّنۡيَا رَاۡسُ كُلِّ خَطِيۡئَةٍ د دُنيا محبت د هرې بدئ جرړه ده.[2] د يزيد پليد زړه د ناپائيدارې دُنيا د محبت نه ډک وو، ځکه هغه د مشهورتيا او اقتدار په شوق کښې اونښتو او دغه شوق هغه د خپل انجام نه غافله کړو او د امامِ عالي مقام او د هغوئي د ملګرو وينې ناحقه توئيولو ته ئې اُورسولو. د کوم اقتدار د پاره چې هغه په کربلا کښې ظُلم او زياتے اوکړو، هغه اقتدار د هغه د پاره څه وفادار ثابت نه شو، بدنصيبه يزيد صرف درې کاله او شپږ مياشتې د حکومت په تخت د خباثت خورولو سره په 64 هجرئ کښې د 39 کالو په عمر کښې په عبرناک مرګ مړ شو.[3]

وہ تخت ہے کس قبر میں، وہ تاج کہاں ہے؟ اے خاک! بتا! زورِ یزید آج کہاں ہے؟

## د بيان خلاصه

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! مونږه حُسيني يو، مونږه د امامِ عالي مقام امامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د محبت ساه ګانې اخلو، امامِ عالي مقام د دُنيا د پاره دين پرې نښودو بلکه د دينِ حق د حفاظت د پاره ئې د 72 تنونو قرباني



[1]... ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:565، حدیث:2383۔

[2]... جامع الاصول فی احادیث الرسول، الکتاب الثالث فی ذمّ الدنیا، جلد:4، صفحہ:457، حدیث:2603۔

[3]... کرامات امام حسین، صفحہ:31۔

ورکړه، مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم د رښتيني حُسيني ثبوت ورکړو، د امامِ حُسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په نقشِ سيرت روان شو، عِلمِ دين زده کړو، په دې عمل اوکړو، نورو ته ئې هم اُورَسَوو، يزيد بدبخته فاسِق وو، فاجِر وو، سُنَّت بدلوونکے وو، ملامت کوونکے وو، ظالِم وو، شرابي وو، د دُنيا په محبت کښې نښتے وو، څکه مونږ له پکار دي چې مونږه د هغه په شان کردار نه ځان بچ کړو، مونږه حُسيني يو، په خبرو کښې هم حُسيني جوړ شو او د اخلاق و کردار په لحاظ سره هم حُيسني جوړ شو.

از پئے چار یار، اے شہِ ذی وقار اپنا شیدا بنا، یا شہِ کربلا!
چشمِ نم دیجئے! اپنا غم دیجئے! از طفیلِ رضا یا شہِ کربلا!
ابنِ شاہِ عرب! مرضِ عصیاں سے اب دیدو مجھ کو شِفَا یا شہِ کربلا!
ایک مظلوم کو اپنے مغموم کو آفتوں سے چُھڑا یا شہِ کربلا!
دِل کو مِل جائے چَین المدد یا حُسَین! ہوں بہت غمزدہ یا شہِ کربلا!
سُن لو فریاد کو آؤ اِمداد کو ابنِ مشکل کُشَا یا شہِ کربلا! [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! په 10 مُحَرَّمُ الْحَرَام د شهيدانو د سردار، حضرت امامِ حُسَين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ايصالِ ثواب اهتمام اوکړئ، په کورونو کښې محفلونه جوړ کړئ او په يولسم شريف د حُسيني سَيِّد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ



[1]...وسائل بخشش، صفحه:528 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ایصالِ ثواب هم اهتمام اوکړئ. شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: سوداګر [دُکاندار] دې د خپلې هرې ورځې د خرڅ نه یو فیصد او تنخوا دار دې د خپلې تنخوا د رقم نه کم از کم 2 فیصده اوباسي او هره میاشت دې د یولسم شریف نیاز کوي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغه په رزق کښې به بَرَکَت راځي. (که چرې په کور کښې په نیاز کولو کښې رُکاوټ وي نو په بل څه نیک کار کښې هغه رقم اولګوئ).

## 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدني قافله

اے عاشقانِ رَسُول! د پوخ رښتیني حُسیني جوړیدو د پاره، د امامِ حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سیرتِ پاک د فیضان حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي سره وابسته شئ. د دې سره د دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې هم پوره حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د امامِ حُسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فیضان به درنصیب شي او د دین او دُنیا ډیر خیر به په لاس در شي. د دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **مدني قافله** دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د امامِ حُسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د کربلا د نورو شهیدانو د ایصالِ ثواب د پاره او د کربلا په اصلي مقصد د عمل کولو یعني د بدو نه منع کولو او د نیکئ دعوت عام کولو د پاره په زرګونو عاشقانِ رسول په 8، 9، 10 یا

9، 10، 11 **مُحَرَّمُ الْحَرَام** مدني قافلو کښې سفر کوي، مونږه هم په مدني قافلو کښې د سفر سعادت حاصل کړو، عملي طور د کربلا والؤ ياد مناؤ کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## شرابي سم شو

د هند د اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې شراب څښل، عَيّاشي کول او شور او غوغا کول، کنزلي کول، مور و پلار او محلے والا تنګول، جواري کول زما معمول وو. يوه ورځ د دعوتِ اسلامي يو اسلامي ورور په ما باندې اِنفِرادي کوشش اوکړو او ما ته ئې په مدني قافله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو. د هغه په ترغيب زه د 3 ورځو مدني قافلے مسافر جوړ شوم. د مدني قافلے په برکت ما د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه اوکړه او د لمُونځونو پابندي کوونکے، د سحر لمُونځ د پاره مسلمانان رابيداروونکے او نور خلق د مدني قافلو مسافر جوړولو والا جوړ شوم.[1]

لُوٹنے رحمتیں قافِلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافِلے میں چلو
دل پہ گر زنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو داغ سارے دُھلیں، قافِلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

323

[1]...برکاتِ مکه ومدينه، صفحه:18۔

## د ايپلي کيشن تَعارُف

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے چې نوم ئې: ***Online rohani ilaj & istikhara*** (آن لائن روحاني علاج اينډ استخاره) دے. په دې ايپلي کيشن کښې ❀ آن لائن استخاره ❀ آن لائن مُريد ❀ آن لائن روحاني علاج ❀ آن لائن کاټ او مختلفې وظيفې يعني ❀ د بيمارئ نه شفا ❀ د غريبئ نه خلاصے ❀ د غم نه خلاصے ❀ د بلاګانو نه حفاظت ❀ دُعا قبليدلو وغيره وظائف شامل دي. تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

323

1…مشكوٰة، كتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عيادت (يعني د بيمارتپوس کول) سُنَّتِ مصطفٰی دے

د رسولُ الله صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين: (1) څوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جنّت په باغ کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د هغه د پاره دُعا کوي.[1] (2) څوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصِله لرې کړے شي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د مريض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبياء دے ✿ د خوږ نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د کوم يو صحابي (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ) د بيمارئ خبر به ورته ميلاؤ شو نو هغوئي صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ✿ که چرې يو کَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به بيمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[3] ✿ او که چرې د تپوس کولو د پاره به د مدينے منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به



[1]…شعب الايمان، مريض کی عيادت کا باب، جلد:6، صفحه:531، حديث:9171۔
[2]…ابو داؤد، کتاب: جنائز، باب: وضو ميں عيادت کی فضيلت، صفحه: 500، حديث: 3097۔
[3]…مسند ابی يعلی، جلد:3، صفحه: 141، حديث: 3429۔

www.dawateislami.net

تشريف وړلو او د صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم تپوس به ئې کولو.[1] 
مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ کريمه نه دي چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب تپوس له د هغوئي کور ته تشريف وړلو.[2] 
د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې کله به ئې د مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو فرمائيل به ئې: لَا بَأۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ الله (يعني هيڅ باک نشته که الله پاک اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو) نه پاك کوونکے دے) د يو اعرابي (يعني د کلي اوسيدونکي) د تپوس د پاره ئې تشريف يوړلو نو دا [کلِمات] اوئې فرمائيل: لَا بَأۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ الله.[3]

د تپوس کولو او د نورو ډيرو روحاني علاج په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله **بيمار عابد** اولولئ.
د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د **مکتبةُ المَدينه** **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 100 صفحو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه

—323—

[1] … مسلم، کتاب: جنائز، مریض کی عیادت کا باب، صفحه: 331، حدیث: 925 خلاصةً۔
[2] … مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحه: 407۔
[3] … بُخاری، کتاب: المناقب، صفحه: 919، حديث: 3616۔

بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں،اِلتجائیں کریں بابِ رَحمت کھلیں،قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه

323

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

323

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1]

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

323

1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة ... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net